محمد اسحاق برکت
ویرجینیا - امریکا

نومبر ۲۰۰۸

# یوه خبره خو پخه خبره
# کسم که یې شل کړې!

ګل اکا دې خدای وبخښي- هغه زموږ د کلي مشر او مخور سړی وو، او موږ به هم په خپله کورنۍ کې هغه ته په درنه سترګه کتل. د کلي خلکو به هغه ته جمادار صاحب او د کورنۍ وړو او زړو به ورته ګل اکا ویلې، ده د دنیا سړې او تودې ډېرې لیدلې وې او خلکو ته به یې کیسې کولې. خدای ببنلي به پخپلو خبرو کې تل ویلې:- **یوه خبره کوم او پخه خبره کوم** ، او که بل چا به خبرې کولې ده به بیا ویلې: **یوه خبره کوه او پخه خبره کوه**. د ده دا خوږه خبره د خلکو په خوله کې هم لوېدلې وه او هغوی به بیا ویلې "د ګل اکا خبره"....

پر ته لدې کوم کار به چې د ده په زړه نوو او هغه کار به ناشونی وو او یا چا بـه چې د ده له خوښې سره برابر کوم کار نکاوو، خدای ببنلي به بیا ویلې : **کســم که یې شل کړې.**

هغه کیسې او هغه وختونه تېرشول چې بیابه یې په خوب ونه وینو؛ د درنو او معززو لوستونکو دې د ګل اکا خبرې وبرې نشي او رابشو اصلي مطلب ته. نن سبا کوم ناورین، تاو تریخوالی، غمیزه او داسې ډېر نور مصیبتونه چې پـه هېواد کې روان دي او د هغه له کبله زموږ په ټولنه کې د بې باور یولو خرې او بربو کې راپورته شوي او ځوک سترګې نشي غوړولی، د هغو ټولو لوی لامل د افغانانو بې اتفاقي او نه یووالی ګڼي، ګواکې چې افغانان ټول بې اتفاقه دي. خودغه مقاله له دغې خبرې سره ډېره موافقه نلري او د مقالې په هاند او نظـر افغانان تل یو موټي وو، دي اووبه اوسي؛ خو یوشمېر معدود د ګوتو په شمـېر ور خلک دوی ته فرصت او مجال نه ورکوي چې سا وباسي او یو مـوټي شي. دغه خلک د خپلو شخصي ګټو(پیسې، جایداد او قدرت) په خاطر د خلکو د بېوزلی ناچارۍ، فقر، نالوستی او ... په سوء استفادې سره دوی د ټـوپکو او پیسو په زور په ملیتونو، مذهبونو، ژبو او نورو دلو وېشلي او د هغو پر بنسټ یې په دوي کې تعصبات را پارولي او نه پرېږدي چې سره یوشي او د د وی ژامې ورماتې کړې.

په دغه اړوند زموږ یو ملي او پیاوړی لیکوال انجینر خ. معروفی صیب په یوه خپله په زړه پورې مقاله « **وردولغات بی مورد ...** » تر سرلیک لاندې یـوه د پره پخه او فلسفي خبره کړېده چې هېڅ کله مې نه هېرېږي او وایي :

**« برمن چون آیینه روشن شده که کفر تعصب همیشه از کعبهٔ روشنفکران برمی خیزد، ورنه توده های مردم، مدام باهم جور می آیند و از تعصب بیگانه اند.»**

که خپل له ویاړه ډک تاریخ ته یو تېز او ځغلنده نظر واچوو د ابه موږ ته جوته شي چي افغانانو د زماني په هر دورکي پر یرغلګر دښمن باندي په شریکه او یوموټي ښېرته یرغل کړی او هغوی یي مختوري شا ته تمبولیدي، د هلاکو او چنګیز یرغل، د انګرېزانو درې ځلي یرغل، په کال۱۳۳۴ هجری د مرحوم "سردار محمد داوود" د سفربرۍ اعلان د انګرېزانو د ګوډاګي یاني پاکستان په وړاندې او بالاخره د افغانانو پاڅون او ملي قیامونه د "خلق ـ پرچم" او شوروویانـــو په وړاندې.

دلته یوه خبره یادوول ضروري بولم او هغه دا چي افغانان مخکي لدېنه چـي په پاکستان او ایران کي تنظیمونه جوړ شي، په ملي قیامونو لاس پوري کړی وو، او وروسته بیا په پاکستان او ایران کي جوړ شوي تنظیمونو او د دغو هیوادونو استخباراتی او افراطي مذهبي کړیو په دستور، په دغو ملي قیامونو کـــي ګوتي ووهلي شوي او جهادي بڼه یي ورکړه. سره لدې چي پاکستاني او ایراني دولتي او استخباراتي چارواکو ډېري ګوتي ووهلي او زموږ جهادي ځواکونو ته یي ډېر زیانونه ورسول ډېر ملي شخصیتونه یي د خپلولاسپوڅو په ذریعه محو او شهیدان کړل؛ خو بیا هم افغانانو یوموټی او متحد خپل ملي مقاومت او جهاد ته دوام ورکړ تر څو چي یي یولوی جهاني ځواک او قدرت په ګونډه کړ او هغه یي د دنیا سیاسي ډګر نه ورک او نابود کړ.

جهاد ختم شولو، واقعي او ملي مجاهدینو وسله پر مځکه کېښوده، پر ټولو مادي او معنوي ګټویې سترګي پټي کړې او جهاد في سبیل الله اعلان شو. خبره به ډېره نه اوږدوو، له دې وروسته د پورتنیو بهرنیانو او روسیې پـه شمول او لمسون د قدرت په سر جنګونه چي په تاریخ کي په **"تنظیمی جنګونو"** شهرت لري شروع شول چي د هغو په تفصیل به ډېر کتابونه ډک شي او د تاریخي جنایاتو په لړکي یو ستر جنایت وو چي تاریخ یي نه شي هېرولی. په دغو چنګونو کي په زرګونه مسلمان او بې ګناه خلک ، ښځي، نارینه ، واړه او زاړه ، ماشومان ووژل شول د کابل ښکلی ښار په کنډواله بدله شوه، د خـلـکـو کورونه نقدي او جنسي شتمنی لوټ شول، په زرهاوې موټرې ، ټانکونه الوتکي او نورې سپکي او درنې وسلي ویجاړې او په بهرني ښارونو کي کباړې شولي، موزیمونه لوټ شول، فابریکي لوټي شولي، د خلکو په ننګ او ناموس باندي تېری وشو، ډېرې پېغلي او کوچني نجوني په عربي هیوادونو کي د کنیزو په ډول خرڅ سولي، زموږ ډېر نورملي ارزښتونه تر پښو لاندې ښولي، سرې څه شي ته ګوته ونیسي، څه نه ووچي په موږ ونشول.... او بیا په دوی باندې خدای یوه بله بلا نازله کړه، داسي بلا که خلک یي د اور پر سکروټو کېښېنول، تنظیمي لوټماران - داړه ماران او د خلکو قاتلان یي هم پـه سوړو کي ننویستل او تر څوچي دغه بلا وه دوی غوړونه نشو ښوروولای.

کله چي د "ناین الیون" کرغیړ نه حادثه په امریکا کي را مینځ ته شوه او د هـغـه په وجه طالبان وځپل شول او د هغوی جرړې وایستل شوې، دغه شړل ســو ي داړه ماران او لو ټماران له سوړو راو ایستل شول او ښېرته ژوندي شول، د وطن قواله یي د ملیونو دالرو په بدل کي ولیکلې او په بن کي لاسلیک کړې او د بي-۵۲ تر سیورې لاندې داخلي یي دولتي ټول مقامونه غصب او په خپله ولګه کي راوستلي، ملکي او نظامي رتبې د خیرات په ډول ووېشلي شوې له هغي ورځي را هیسی بیا په عوام الناس غوبل جوړ اوناتار روان دی. او اوس هــم دوی پرخپلو برېټونو لاس تاووي چي ګواکي ټول موږ ګټلي او بل څوک په دې کي برخه نلري نو ځکه یې د ژوندانه په ټولو کړو وړو خپټه اچولي ده.

یو یوه وایي: بې موخه او بې هدف جنګونه غله، لوټماران، ترهګراو داسي نـور بېباکه او پخپل سر خلک روزي او سوله بیا هغوی په دا رپورته کوي. دغه وییه بالکل ټیک ده، او په هغه کي هېڅ تردید نه لیدل کیږي - دغه موږ په خپل هیواد کي ولیدل او وینو.

دوی ډېر ښه پوهیږي او په دې شیطنت کي یي د شیطان لاسونه تر شا تړلي، چـي که سوله مینځ ته راشي د دوی به مخ توروي او د اجتماعي عدالت منګلو تـه به وسپارل شي ؛ نو له دې کبله څه لوبې چي نن په هیواد کي رواني دي، په مستقیم او غیرمستقیم ډول د دوی لاسونه شامل دی. په اداري فساد، غلا، اختطاف، په ناموسونو تیری، د شخصي او ملي جایدادونو لوټول او حتي له طالبانو سره د دوی اړیکي او هغوی ته پناه ورکول، په ټولو کي د دوی لاسونه ککړ دی. که د

طالبانو د بېرته راتګ خبره پورته شي نو رباني صیب به پاس په غنډۍ ولاړ وي او لاسونه به ښوروي- کبوتران صلح خوش آمدید!!! که چېرته جنرال صیب حمید ګل کومه خبره اورېدلې وي نو رباني صیب خوله کږوي او وايي: صیبه ! ما خو پخوا د ارګ په ماڼۍ کي تا ته بلنه درکړېوه! که چېرې د چا په شپږ کلنه نجلۍ بېناموسي وشي، هغه به د دوی د وکیل صیب زوی وي، د اردو منصبدار او د پولیسو قوماندان. د آزاد بازار او خصوصي تشبثاتو په نوم د ژوندانه ټول کار و بار د دوی خپلوانو او نور- خویش خر کار آخندزاده ګانو په لاس کي نیولې او نرخونه دوی په خپل زړه تثبیتوي، دغه دی د خلکو ژوند او د دوی د جهاد!! ثمره.
بل پلو سیاف صیب وایی: « ای میدانه که مجاهدین نزنه – پدر کس زده نمی تانه!!»
د دغي خبرې مانا(معنی) دا ده چي دغه د لېوانو اده اودغوایانوغوبل او د کوژان اتڼ موږ جوړ کړی او که وغواړو موږ به یې سم کړو؟؟؟
دغه جنایتکاران دي چي د افغانستان د کړکېچ په او رونو کي دګاونډیانو په لمسون او اشاره، پترول اچوي او هغه لاپسي کړکېچن کوي؛ دوی په کلنو، کلنو د جهاد په وخت کي د دغه هیوادونو د استخباراتي سر چینو څخه تمویل شوي او پیسي اخستي، دوی که سر کرزی صیب ته ښورروي ، لکی هغوی ته ښورروي.
د پورتنیو تشریحاتو پر بنسټ زه هم د کل اکا په خبره:
**یوه خبره کوم او پخه خبره کوم!**
او هغه د اچي ، تر څو دغه خبیثه او سرطاني غوټه (غده) ونه ایستله شي، په هیواد کي به واقعي سوله او یووالی ټینګ نه شي.
نو که ښاغلی کرزی صیب وي او یا که بل هر څوک:
په جهان د مېړنتوب کي دي دوه کاره
یا به وخورې ککرۍ یا به کامران شي
افغانستان نن یو عادل ، صادق ، زړور، باانضباط او دسپلین دیکتاتور ولسمشر ته ضرورت لري، پرته لدېنه:
**کسم که یي شل کـړي.**